# د امام بخاري رحمه الله طلايی اثر صحيح بخاري




محمدي : 1402

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب پیژندنه**

د کتاب نوم: د امام بخاري رحمه الله طلایی اثر صحیح بخاري

لیکونکي: محمدي

انتشارات:

د چاپ کال:

د چاپ نوبت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مقدمه

يو تر ټولو ارزښتمنده اثر د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحيح احاديثو کې "الجامع الصحيح المسند المختصر من امور رسول الله صلى الله عليه وسلم و سننه و ايامه" مشهور په صحيح البخاري دی دغه کتاب په تيرو قرنونو کې د قرآن عظيم الشان څخه ورسته تر ټولو صحيح کتاب بلل کيږي د صحيح حديث په برخه کې خو د اسلام دوښمنان تل کوښښ کوي چې د اسلام مصادر او شخصيتونو ته ضربه ورسوي لکه څنګه چې ځينې وخت په قرآن عظيم الشان او ځينې وخت هم په صحيح احاديثو باندې بريد کوي صحيح البخاري او د هغه مولف هم ددې ډول بريدونو څخه خوندي نه دی پاتې د اسلام دوښمنان غواړي چې دغه مقدس کتاب ته هم ضربه ورسوي او بيلابيل شبهات او شک پکې رامنځته کړي چې دوې به هيڅکله هم بريالي نشي د الله تعالي په مرستې سره، د صحيح البخاري په اړه ډير کتابونه ليکل شوي خو دلته ما وغوښتل چې د ځوانانو لپاره داسې يو لنډ کتاب چې دوې وکولې شئ امام بخاري رحمه الله او د هغه اثر صحيح البخاري وپيژنئ وليکم هره څيړنه چې ترسره کيږي د انسان د وس مطابق وي او الله تعالي انسان ته د يوه عمل ترسره کولو توفيق ورکوي په دغه کوچيني کتاب کې که کومه ستونزه وي دغه زما خپله نيمګړتيا ده او الله تعالي ته اميد لرم چې دغه ليکنه زما په صالحات کې وشميري او زما د ګناهونو د ښښنې سبب وګرځي په آخر کې بيا هم د الله تعالي شکر ادا کوم چې ماته يې دا فرصت، صحت او عافيت راکړ چې د الله تعالي د رضا لپاره داسې يوه ليکنه ترسره کړم په آخر کې له ټولو لوستونکو څخه هيله کوم چې ما په خپلو دعاګانو کې هير نه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**عنوان** **مخ**


د امام بخاري پیدا‌ښت او زده کړې........................................1
د امام بخاري رحمه الله ځینې ځانګړتیاوې ........................................1
د امام بخاري استادان ........................................2
د امام بخاري شاګردان ........................................2
د امام بخاري تالیفات........................................2
د امام بخاري وفات........................................3
د امام بخاري په هکله د علماوو څرګندونې ........................................3
د صحیح بخاري کتاب ........................................4
د صحیح بخاري د تالیف علت څه و؟........................................4
د صحیح البخاري په اړه د علماوو ویناوې ........................................5
د صحیح البخاري ترتیب ........................................5
د صحیح بخاري شروح........................................6
د امام بخاري څو طلایی ویناوې ........................................7
اخذلیکونه ........................................8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امام بخاري رحمه الله پيدانبت او زده کړې

اصلی نوم يې محمد بن إسماعيل دی، نسب يې محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن مغيره بن بردزبه ته رسيږي، محمد بن إسماعيل د جمعې په ورځ چې د ۱۹۴ هجري قمري کال د شوال مياشتې ۱۳ نيټې سره سمون خوري نړۍ ته سترګي وغړولی په ۱۰ کلنۍ کې يې د احاديثو حفظ او د علم زده کړه پيل کړ کله چې ۱٦ کلنۍ ته ورسيده د ابن المبارک ووکيع کتابونه يې حفظ کړل فقه او اصحاب راى يې وپيژندل. يوه ورځ احمد بن حفص يو نظر ورته وکړ او ويې وويل (دغه شخص به شهرت ته ورسيږي) يعنې مشهوره به شي. په ۱٦ کلنۍ کې د خپلې مور او ورور سره يو ځاى په يوه علمي سفر کې مکه ته لاړ مور او ورور يې بيرته راوګرځيدل خو دې د علم زده کړې په خاطر په مکه کې پاتې شو تر څو د مکې مکرمې له علماوو څخه زده کړه ترلاسه کړي.[1]

۱۷ کاله يې د صحيح البخاري په تاليف کې تير کړل ۳۰۰۰۰۰ درى لکه احاديث يې حفظ و تقريبا ۲۰ کاله محمد بن إسماعيل په ليکلو کې تير کړل.[2]

علامه الشيخ عبد المحسن العباد د امام بخاري په اړه فرمايی ۱۰۰۰۰۰ يو لک صحيح احاديث يې حفظ و او ۲۰۰۰۰۰ دوه لکه غير صحيح احاديث.[3]

## د امام بخاري رحمه الله ځينې ځانګړتياوې

د امام بخاري رحمه الله ځينې ځانګړتياوې په لاندې ډول سره دي.

د ښه اخلاق درلودل، د هغه وخت له جنګي وسايلو او اسبابو سره يې پيژندګلوي لرله او ماهره غشي ويشتونکي و. د خپل پلار ميراث يې په مضاربت ورکړ او خپله د علم په زده کړه کې بوخت شو. يوه شپه يې د تجارانو يوې ډلې ته وعده ورکړه چې مال په ۵۰۰۰ درکوم ورته يې وويل سباته راشئ، سباته نور تجاران راغلل هماغه مال يې په ۱۰۰۰۰ ګټې اخست نو امام بخاري قبوله نکړه او هماغه پخوانيو تجارانو ته يې په ۵۰۰۰ ورکړو. ويل به يې سباته غواړم چې د الله تعالي سره مخامخ شم چې د هيچا غيبت مې نه وي کړي او په دغه برخه کې يې ډير احتياط کولو. د مياشتې يې ۵۰۰ درهمه ترلاسه شوي پيسې د غريبانو او مسکينانو ترمنځ ويشلې په ځانګړي توګه د علم طالبانو ته، د شپې لمونځونو کې (تهجد) د قرآن دريمه برخه لوستله چې هرو دريو شپو کې د قرآن يو ختم کيدو.

---

[1] منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم .۳۲/۱.

[2] شرح صحيح البخاري تاليف أبو إسحاق الحويني الأثري حجازي محمد شريف [الكتاب مرقم آليا، ورقم الجزء هو رقم الدرس] - ۹ دروس. ۹-۱

[3] الإمام البخاري وكتابه الجامع الصحيحتاليف : الشيخ عبد المحسن العباد ۴-۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امام بخاري استادان

امام بخاري رحمه الله د ډېرو استادانو څخه درس لوستي، اوريدلي او روايت يې کړي چې ځينو تاريخ ليکونکو ۱۰۸۰ استادان ياد کړي چې تر ټولو مشهوره يې په لاندې ډول سره دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمد بن عبدالله انصارى | مکى بن ابراهيم | على بن مدينى | احمد بن حنبل |
| اسحاق بن راهويه | ابوبکر او عثمان د ابوشيبه زامن | | ابوحاتم رازى |

## د امام بخاري شاگردان

د امام بخاري رحمه الله شاگردان ډير زيات دى چې مشهوره يې په لاندې ډول سره دي.

| د امام بخاري رحمه الله مشهوره شاگردان |
|---|
| ابوعبدالرحمن نسائى د سنن نسائى مولف |
| ابوعيسى ترمذى د جامع ترمذى مولف |
| ابن ماجه |
| امام دارمى |
| امام مسلم بن حجاج نيشابورى د صحيح مسلم مولف[4] |

## د امام بخاري تاليفات

امام بخاري رحمه الله لاندې کتابونه ليکلي دى.

| د امام بخاري رحمه الله مشهوره تاليفات |
|---|
| قضايا الصحابه والتابعين و أقاويلهم |
| التاريخ الكبير |
| الأدب المفرد |

[4] التجريد الصريح لأحاديث الجامع الصحيح مختصر صحيح بخاري (فارسي تأليف :محمد بن اسماعيل بخاري اختصار كننده: ابوالعباس زين الدين احمد بن عبداللطيف الشرجي الزبيدي مترجم: عبدالقادر ترشابي ۱۴۸/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| اسامی الصحابه |
| الاشربه |
| برالوالدين |
| التاريخ الأوسط |
| التاريخ الكبير |
| التاريخ الصغير |
| الجامع الصحيح من المسند من حديث رسول الله و سننه و ايامه مشهوره دی په صحيح بخاري |
| خلق افعال العباد |
| القراءه خلف الامام و |

## د امام بخاري وفات

د احاديثو امير المومنين محمد بن اسماعيل رحمه الله په ۲۵٦ هـ ق کال کې د اختر په شپه په ٦۲ کلنې کې وفات شو او د خرتنگ په کلی کې خاورو ته وسپارل شو (انا لله و انا اليه راجعون).

## د امام بخاري په هکله د علماوو څرگندوني

د امام بخاري رحمه الله په هکله ډيرې ويناوې شوي چې تر ټولو لوی لقب يې د حديث امير المومنين دی.

علامه مقدسی فرمايی محمد بن إسماعيل بن إبراهيم جعفی بخاري حافظ، د حديث امير المومنين او د قرآن کريم څخه ورسته د احاديثو صحيح کتاب خاوند و.[5]

امام احمد بن حنبل فرمايی خراسان د محمد بن اسماعيل په شان بل عالم ندی راوړی.[6]

د مکې مکرمې علماوو دا نظر و او ويل به يې محمد بن اسماعيل امام او فقيه و زموږ او د خراسان.[7]

د محمد بن ابی حاتم او نجم بن فضيل نظر دا و چې فربری وفرمايل چې د محمد بن أبی حاتم بخاري وراق څخه مي واوريدل چې ويل يې ما محمد بن اسماعيل رحمه الله په خوب وليده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم

[5] روضة الناظر وجنة المناظر في أصول الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل،تأليف ابن قدامة المقدسي،ناشر:مؤسسة الريّان للطباعة والنشر والتوزيع، ط ۲ (۱۴۲۳هـ ۲۰۰۲م ۱-۳۹۹)

[6] منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم ۳۴/۱

[7] منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم ۳۴/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاته روان و، رسول الله صلی الله علیه وسلم روان و کله چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قدم پورته کړ محمد بن اسماعیل به په هماغه ځای کې قدم ایښوده.[8]

## د صحیح بخاري کتاب

صحیح بخاري د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحیحو احادیثو په برخه کې تر ټولو معتبر کتاب بلل کیږي اصلی نوم يې الجامع الصحيح المسند المختصر من امور رسول الله صلی الله علیه وسلم دی چې د خلکو ترمنځ د صحیح بخاري په نوم مشهوره شوي دغه کتاب کې ټول احاديث صحيح دی کوم ضعيف قول پکې نه دی ذکر شوي. صحیح بخاري د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو معتبره کتاب بلل کیده د قرآن عظیم الشان څخه ورسته.

## د صحیح بخاري د تالیف علت څه و؟

امام بخاري رحمه الله د صحیح بخاري د تالیف درې علتونه بیان کړي چې په لاندې ډول سره دي.

لومړي/ د احاديثو صحيح کتاب ته اړتيا: ځکه هغه مهال د احاديثو په برخه کې کتابونه تاليف شوي و چې د صحابه اقوال پکې شتون درلود ددې ترڅنګ د تابعينو فتوا ګاني هم پکې موجودې وي لکه موطا د امام مالک رحمه الله اثر.[9]

دوهم/ د استاد سپارښتنه د داسې کتاب ضرورت ته: امام بخاري رحمه الله خپل کتاب د خپل استاد امام إسحاق بن راهويه په سپارښتني سره تاليف کړ.[10]

دريم/ هغه خوب چې امام بخاري رحمه الله وليده علامه ابن حجر عسقلانی فرمايی محمد بن سليمان بن فارس وايی چې ما له امام بخاري رحمه الله څخه واوريدل چې فرمايل يې رسول الله صلی الله علیه وسلم مې په خوب وليده چې زه مخامخ ورته ولاړ وم او په لاس کې مې پکه وه او په هغې مې د (مياشی او مچ) مخنيوي کولو د خوب ځينو تعبير کونکو څخه مې پوښتنه وکړه راته يې ووېل ته به د رسول الله صلی علیه وسلم څخه دروغ لرې کوي چې دغه هم سبب شو صحيح بخاري وليکم.[11]

---

[8] منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم ١-٤٢

[9] التوضيح لشرح الجامع الصحيح،تاليف ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: 804 هـ،تحقيق دار الفلاح للبحث العلمي وتحقيق
التراث،سوريا:دار النوادر ط ١٤٢٩ هـ - ٢٠٠٨م، ١-٧٦

[10] فتح الباري شرح صحيح البخاري تاليف أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي الناشر : دار المعرفة – بيروت ١٣٧٩

[11] فتح الباري شرح صحيح البخاري،تاليف ابن حجر العسقلاني ١-٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د صحيح البخاري په اړه د علماوو ويناوي

د اسلامي علماوو په وينا صحيح بخاري د قرآن کريم څخه ورسته تر ټولو معتبر کتاب بلل کيږي د احاديثو په برخه کې چې ټولو علماوو په دې اړه اجماع کړي ده پدې ځای کې اړتيا ليدل کيږي چې د ځينو علماوو ويناوي تاسو ته را نقل کړم.

علامه ابن عجر عسقلاني رحمه الله فرمايی د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب صحيح البخاري دی.[12]

علامه بدر الدين عينی رحمه الله فرمايی د شرق او غرب علماوو پدې اتفاق کړي چې د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب بغير له صحيح البخاري او صحيح مسلم څخه نشته.[13]

ابو حاتم مقری رحمه الله فرمايی د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب صحيح البخاري دی.[14]

زين الدين قاهری رحمه الله فرمايی صحيح البخاري د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب بلل کيږي.[15]

علامه ابن نجار رحمه الله فرمايی صحيح البخاري د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب بلل کيږي.[16]

علامه علی فقيهی رحمه الله فرمايی د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب صحيح البخاري دي.[17]

علامه سالوس رحمه الله فرمايي د ټول امت په منځ کې يوه واضحه او ښکاره خبره همدا ده چې دغه کتاب صحيح البخاري صحيح کتاب دی د قرآن عظيم الشان.[18]

علامه شهود رحمه الله فرمايي اسلامي امت دغه کتاب د قرآن عظيم الشان څخه ورسته صحيح کتاب منلي.[19]

## د صحيح البخاري ترتيب

امام بخاري رحمه الله خپل صحيح کتاب په کتب او ابواب باندې وويشو په صحيح البخاري کتاب کې شامل دی ۹۷ کتابه او ۳۴۵۰ بابه. امام بخاري خپل صحيح کتاب په (بد الوحی) باندې پيل کړي ورسته د ايمان کتاب

---

[12] فتح الباري شرح صحيح البخاري،تاليف ابن حجر العسقلاني ۱۳-۱

[13] عمدة القاري شرح صحيح البخاري تاليف بدر الدين العيني الحنفي ١٧ نيسان ( أفريل ، ٢٠٠٦م .۱۱-۱

[14] إتحاف الرفيق بما صح من روايات بسجود النبي بالنجم و دحض قصة الغرانيق،تاليف أبو حاتم المقري ،ص. : ۱۲

[15] اليواقيت والدرر في شرح نخبة ابن حجر،تاليف زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (المتوفى: ۱۰۳۱ هـ،تحقيق المرتضي الزين أحمد،رياض:مكتبة الرشد ، ط۱۹۹۹ ) ، ۱م، ۱-۲۶۹

[16] شرح الكوكب المنير،تاليف تقي الدين أبو البقاء محمد بن أحمد بن عبد العزيز بن علي الفتوحي المعروف بابن النجار (المتوفى : 972 هـ،تحقيق محمد الزحيلي و نزيه حماد،ناشر : مكتبة العبيكان، ط۱۴۱۸)، ۲هـ - ۱۹۹۷مـ، ۱-۳۵۲

[17] الرد القويم البالغ على كتاب الخليلي المسمى بالحق الدامغ،تأليف : أ .د. علي بن محمد ناصر الفقيهي،ناشر : دار المآثر ـ المدينة النبوية،ص. : ۱۲۳

[18] مع الاثنى عشرية في الأصول والفروع [موسوعة شاملة]،وملحق بها السنة بيان الله تعالى على لسان الرسول -َص لى اللىُه َعلَيْ ره َو َسلى َم- ،تاليف د علي بن أحمد علي السالوس،ناشر :دار الفضيلة بالرياض، دار الثقافة بقطر، مكتبة دار القرآن بمصر،ط ۱۴۲۴)،۷هـ - ۲۰۰۳م، .۲۹-۱

[19] موسوعة الرد على المذاهب الفكرية المعاصرة،جمع وإعداد: علي بن نايف الشحود، ۲۵-۲۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي، ورسته د طهارت کتاب، د لمونځ کتاب، د روژې کتاب، د حج کتاب، د بيوع (معاملات) کتاب، د مرافعات کتاب، د شهادات کتاب، د صلح کتاب، د وصيت کتاب، د وقف کتاب او د جهاد کتاب شتون لري ځينې غير فقهي ابواب يې هم ذکر کړي لکه د پيدايښت پيل، د پيغمبران د ژوند کيسي، جنت او دوزخ، د قريش مناقب او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اصحابو فضليت يې ذکر کړي دي. د هغه څخه ورسته سيرت او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم غزوات يې ذکر کړي لدې څخه ورسته د کتاب تفسير يې ذکر کړي ورسته فقهي برخې ته راغلي د نکاح کتاب، د طلاق کتاب او د نفقه کتاب يې ذکر کړي ورسته د خوراک کتاب، د ښبلو کتاب، د طب کتاب، د ادب کتاب او د استذان (اجاره) کتاب يې ذکر شوي ورسته د نذز کتاب، د کفارات کتاب، د حدود کتاب، د تعبير کتاب د فتن کتاب، په کتاب او سنت باندې اعتصام او په آخر کې د توحيد په هکله يې خپل کتاب پای ته رسولې.

لکه څنګه چې حافظ ابن حجر عسقلاني د صحيح بخاري شرح کړي ده يوه دقيقه شميرنه يې ترسره کړي دی وايي چې په صحيح بخاري کې ټول احاديث د تکرار سره ۷۳۹۷ احاديث دی او ټول معلق احاديث بيا ۱۳۴۱ کيږي چې ډير يې تکراري دی چې ټول ټال يکې ۹۰۸۲ احاديث کيږي د تکراري سره.

## د صحيح بخاري شروح

د اسلام علماوو صحيح بخاري ته ډير زيات پام کړي چې پدې عظيم کتاب باندې د ۸۰ څخه ډير شروح ليکل شوي دی چې مشهوره يې په لاندې توګه دي.

| د صحيح بخاري د شروح کتاب نوم | ليکوال |
|---|---|
| فتح الباري د صحيح بخاري شرح | امام ابن حجر رحمه الله |
| عمده القاري في شرح البخاري | امام عينی رحمه الله |
| ارشاد الساري الی شرح صحيح البخاري | شهاب الدين احمد بن محمد |
| الكواكب الدراری في شرح صحيح البخاري | شمس الدين محمد بن يوسف بن علی بن سعيد كرمانی |
| شرح امام ناصر الدين | ناصر الدين علی بن محمد المنير اسكندرانی |
| شرح صحيح البخاري | ابی الحسن علی بن خلف بن عبد الملک |
| التوشيح شرح الجامع الصحيح | امام جلال الدين سيوطی رحمه الله |
| التلويح في شرح الجامع الصحيح | حافظ علا الدين مغلطای بن قليج تركی مصری حنفی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| فیض الباری | |
| فیض المبدی | مختصر الزبیدی |

د صحیح بخاري اختصار شوي کتابونه هم شتون لري چې د بیلابیلو عالمانو لخوا اختصار شوي چې تر ټولو مشهوره يې د شيخ زبیدی دی د (التجرید الصحیح) په نوم.

## د امام بخاري څو طلايي وېناوې

امام بخاري رحمه الله فرمايي د حق دعوتګر بايد له دې څلورو مرحلو څخه تير شي

لومړي: په يوه مرحله کې، ټول دده دوښمنان کيږي.

دوهم: خپل ټول ملګري له لاسه ورکوي.

دريم: جاهلان او کم علمه به دده ته پيغور ورکوي.

څلورم: په آخر کې به علما له دده سره حسادت پيل کړي.

او هر څوک چې له دغه څلورو مرحلو څخه تير شو پوه شه چې دی د حق (بريالي) دعوتګر دي.[20]

له امام بخاري رحمه الله څخه پوښتنه وشوه د هيردو دوا څه شی ده؟

وويل بايد په مسلسله توګه کتاب ته وکتل شي.

امام بخاري رحمه الله فرمايي (له هغه وخت راهيسي چې مې واوريدل غيبت کړل حرام دی هيڅ وخت مې غيبت ونه کړ او اميد لرم چې پداسې حال کې د الله تعالي ملاقات ته ورشم چې د غيبت په خاطر له ما سره محاسبه ونکړي.

امام بخاري رحمه الله فرمايي تر ټولو ښه مسلمانان هغه دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هير شوي سنت را ژوندي کړي صبر اختيار کړئ اى د سنت صاحبانو الله تعالي به خپل رحمتونه پر تاسي باندې نازل کړي ځکه چې تاسو د خلکو په منځ کې لږ يي.[21]

[20] مقدمه صحيح بخاري (۴/۱)
[21] الجامع ۱۱۲/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخذليکونه


- منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم ٣٢/١.
- شرح صحيح البخاري تاليف أبو إسحاق الحويني الأثري حجازي محمد شريف [الكتاب مرقم آليا، ورقم الجزء هو رقم الدرس] - ٩ دروس. ٩-١.
- الإمام البخاري وكتابه الجامع الصحيحتاليف : الشيخ عبد المحسن العباد ۴-١.
- التجريد الصريح لأحاديث الجامع الصحيح مختصر صحيح بخاري (فارسي تأليف :محمد بن اسماعيل بخاري اختصار كننده: ابوالعباس زين الدين احمد بن احمد بن عبداللطيف الشرجي الزبيدي مترجم: عبدالقادر ترشابي ١٤٨/١.
- روضة الناظر وجنة المناظر في أصول الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل،تأليف ابن قدامة المقدسي،ناشر:مؤسسة الريّان للطباعة والنشر والتوزيع، ط ٢ (٤٢٣هـ ٢٠٠٢م ١-٣٩٩).
- منهج الإمام البخاري إعداد : أبو بكر كافي إشراف : الدكتور حمزة عبد الله المليباري الناشر : دار ابن حزم ٣۴/١.
- التوضيح لشرح الجامع الصحيح،تاليف ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: 804 هـ،تحقيق دار الفلاح للبحث العلمي وتحقيق التراث،سوريا:دار النوادر ط ١٤٢٩ هـ - ٢٠٠٨م، ١-٧٦.
- فتح الباري شرح صحيح البخاري تاليف أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي الناشر :دار المعرفة – بيروت ١٣٧٩.
- عمدة القاري شرح صحيح البخاري تاليف بدر الدين العيني الحنفي ١٧ نيسان ( أفريل ، ٢٠٠٦م .١-١١.
- إتحاف الرفيق بما صح من روايات بسجود النبي بالنجم و دحض قصة الغرانيق،تاليف أبو حاتم المقري ،ص. : ١٢.
- اليواقيت والدرر في شرح نخبة ابن حجر،تاليف زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (المتوفى: ١٠٣١ هـ،تحقيق المرتضي الزين أحمد،رياض:مكتبة الرشد ، ط١٩٩٩ ) ، ١م، ١-٢٦٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- شرح الكوكب المنير،تاليف تقي الدين أبو البقاء محمد بن أحمد بن عبد العزيز بن علي الفتوحي المعروف بابن النجار (المتوفى : 972 هـ،تحقيق محمد الزحيلي و نزيه حماد،ناشر : مكتبة العبيكان، ط١٤١٨)، ٢هـ - ١٩٩٧مـ، ١-٣٥٢.
- الرد القويم البالغ على كتاب الخليلي المسمى بالحق الدامغ،تأليف : أ .د. علي بن محمد ناصر الفقيهي، ناشر : دار المآثر ـ المدينة النبوية،ص. : ١٢٣.
- مع الاثنى عشرية في الأصول والفروع [مو سوعة شاملة]،وملحق بها السنة بيان الله تعالى على لسان الرسول -َص ىلى اللىُ ه َعليَْ ره َو َ سلى َم- ، تاليف د علي بن أحمد علي السالوس، ناشر: دار الفضيلة بالرياض، دار الثقافة بقطر، مكتبة دار القرآن بمصر،ط ١٤٢٤)،٧هـ - ٢٠٠٣م، .٢٩-١.
- موسوعة الرد على المذاهب الفكرية المعاصرة،جمع وإعداد: علي بن نايف الشحود، ٢٥-٢٣٩.

مقدمه صحيح بخاري (۴/۱).

- مقام و منزلت صـــحيح البخاری و مولف آن از ديدگاه دانشـــمندان اســـلام، اســـتاد عبدالظاهر داعی، ۱۴۰۲هـ ش.
- جایگاه امام بخاری رحمه الله و صحیح آن، شاکر الذهبی، ۱۴۰۲هـ ش.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**